(c) ketabton.com: The Digital Library

# خپلې خبرې

زه احمد سليم ړنگ نومېږم د استاد غلام حسين ړنگ زوی او پوهنوال استاد غلام دستگير ړنگ خوريانې نمسی يم. په کال ١٣٥٨ ل کې په کابل کې زېږېدلی يم. د کمپيوټر ساينس ديپلوم مې د خيبر پښتونخوا د هايټک د لوړو زده کړو موسسې څخه او په حقوقو او سياسی علومو کې مې ليسانس د کابل پوهنتون څخه ترلاسه کړی، د ښاغلي حيدري وجودي څخه مې د مينې، تصوف او عرفان زده کړې کړې، د مولانا جلال الدين محمد بلخي رومي رح آثارو پراخه مطالعه لرم ځکه عرفاني اصطلاحات مې د شعرونو غټه برخه جوړوي، همدا لامل دی چې زما د شعرونو غټه برخه د ظاهري معنا پرته خپل عرفاني تشبيهاتو، اصطلاحاتو او مفاهيمو لرونکي دي، دې ټکي ته مې ځکه اشاره وکړه چې ځنې اشعار د تامل وړ دي او بايد په لنډ فکر يې په هکله قضاوت ونه شي.

زه له ليکوالانو او اديبانو سره تر ډېره په اړيکه کې نه يم، ځکه ونه مې شول چې د هغوی نظر د خپلو اشعارو په هکله ترلاسه او تاسې سره يې شرک کړم، همداسې د اوس لپاره د خپلو اشعارو د چاپ مالي وړتيا نه لرم نو ځکه يې د سافټ او يا PDF په بڼه خپروم.

هر هغه وگړی/ وگړي او يا ټولنه چې وغواړي له دې اشعارو څخه گټه پورته کړي او يا يې په هر ډول خپاره کړي د ليکوال د معنوي حقوقو په پام کې نيولو سره د گټه اخستنې حق لري.

دا زما لومړنۍ شعري ټولگه ده، تر دې وړاندې مې د ښاغلي جان اداير John Adair د The Leadership of Muhammad او د ښاغلي ذاکر نايک Quran and Science کتابونه ژباړلي خو هغه هم لا چاپ شوي نه دي.

درانه لوستونکي کولی شي زما د شعرونو په هکله د هر ډول څرگندونو او خپل نظر شريکولو لپاره د saleemrlung@gmail.com بريښناليک له لارې اړيکه ټينگه کړي.

په مينه

سليم ړنگ

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدایه کافر نه شم انسان د پېژندلی نه دی

د ده په کوم کار چې شیطان هم شرمېدلی نه دی

هغه انسان چې ملایکو ته تا وپېژندو

خدایه! تر اوسه خو هغه انسان راغلی نه دی!

خدایه په نن سبا به غږ داسرافیل وارو

بې له خو تنو قرآن چا رښتیا منلی نه دی

مورې له قرآنه تش دا ږیره او پګړۍ اخستې

زمورږ د کلي مفتي هم ښه سم ویلی نه دی

ګوندې جنت دې د کابل غوندې سپېره پاتې شي

دومره پوهېږم ځناور ته دې ساتلی نه دی

فلک د لمر څراغ بل کړی او انسان لټوي

ګوندې جنت نه د آدم هېڅ راشړلی نه دی

خدایه ته هم لکه رنګ تل ارمان په زړه پاتې شوې

ما په صورت انسان خو په معنا لیدلی نه دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

را ته دې نښې د رخسار راکه
راکه د زلفو نه دې تار راکه
چې د اوربل نه د ستار جوړکم (کړم)
یاغي باغي زلفې په وار راکه
نغمې د هجر زما ډېرې زده
غزل د وصل د سهار راکه
نورې پیالې په ما اثر نکړي
نشې د سترګو د خمار راکه
مقطې (مقطع) ته ورسېد غزل د ژوند
خال هومره ما ته تش دیدار راکه
منم چې ور نه دی د هېڅ څه رنګ
په سرکو شونډو کې مزار راکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زموږ د کلي ډم زموږ د کلي خان کړو کوم چا
خدایږو خوشحال یې که پښتو پښتونولي ته تېنګ شه
ځکه د ښار فاحشې ستر ستر دستارونه تړي
کوم نمازي به یې سجدو ربښتینولي ته تېنګ شه
د منافقو تراویح دي ډېر کلونه وشول
خدایږو نبیان که یې روژو او پیښنمي ته تېنګ شه
که دا ملا که دا زاهد که دا صوفي وي زموږ
په والله بالله که شیطان یې هم سیالي ته تېنګ شه
ړنګه عزت د بېعزتو په بازار خرخېږي
څوک به د دې بازار بایع او مشتري ته تېنګ شه

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا شعر مې د يوې اغلې"پرخې" د ښکلي انځور نه په الهام ليکلی

چې څوک نوی نوی ميو باندې راشي
بيرته ولوېږی له جام سره چې پاځي
ته چې پرخه شوې په گل باندې پرته وې
په دې بڼ کې گلان څکه داسې ناځي
چې دې سرې شونډې په گل باندې پيرزو کړې
د عاشق له زړه نه اور د حسرت ځاځي
د جنت قدر په حورو باندې ډېر دی
گل له تا چې ستا اوربل سره په خوا ځي

نيم صورت د ړنگ ليدلی خدايه خير کې
داسې نه چې بيا په عشق د چا رسوا شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملا تا نه به حساب د مونځ تسبو کړي
خو زما به د بېشمېره سرو پیالو کړي
ته زما په کار کې کار مه لره دروځه
د هر چا حساب د هغه په اوږو کړي
زه به ووایم چې مست د تا په مئ وم
لیوني به څه ځواب ستا د ګیلو کړي
ته دوزخ نه یې ډار شوی او توبې کړې
یو څه غم سړی بدل په شنو خالو کړي
قلندر دی چې دوزخ په لور یې بیایي
وروستئ طمه د زړو میو د څښو کړي
چې یو ځل دې د الست په میو مست شول
د خلیل غوندې مستي په سرو لمبو کړي

هوښیارانو ته آذان باندې په یاد شې
رنګ دې جام د ترخو میو په سجدو کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

غنم هغه ول پییل شوي بیل ول

په بیل فکرونو لیدل شوي بیل ول

گنې غنم هغه چې لوږه مړه کي

که کوم خباز ورنه ډوډۍ پخه کي

که چا هغه امیل شلولی ولو

اصلي معشوق په یې لیدلی ولو

سترگې پیدا شي تش په مینه باندې

مومن کافر بیل نه شي وینه باندې

ړنگه هر بند شلوو ته مینه غواړي

سترگې یې وشي څوک چې مینه پالي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مړو سر ته ناست یو ژاړو که دوی بیا ژوندي شي

پربړدي لمن د پردو بېرته د خپل قام سړي شي

بلا نومونه غټ ابدال دي یوسفزي او خټک

چې د پښتو خبره راشي پښتانه پردي شي

ژبه یې هېره ده تاریخ خپل په اردو زده کوي

چې له الف نه پورته زده کړي پکتیاني فارسي شي

جرګې مو لاړې د جرګو سړي مو مړه کړه خلکو

ژبه مو کفر شوه وژل مو د جنت کلي شي

مشران هغه چې سر په لاس کې خپل ملت وساتي

نه هغه کس چې پنجابي ته په جي جي او جي شي

زما د کفر فتوا ورکړه چې مومن شو له ما

زما جلاد د سومنات له مدرسي قاضي شي

ړنګه څنډۍ به شي غلام له خوبه مه پاڅوه

هر آزاد فکر ته کاڼه ړانده ګونګي مفتي شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

گوره رخسار چې په بنګړو او په مړوند پټوي
ظالمه یاره ته زما نه زما ژوند پټوي

په یوه مړه سترګه په نیمه خوله خندا مه کوه!
پرهر پرهر یمه زړګی مې په بند بند پټوي

د سرو بنګړو سره دې سپینې لېچې مه جنګوه
په دې آذان مې د ایمان د زړه پیوند پټوي

تا له به ډېرې اداګانې او نازونه درځي
د دین دنیا متاع د زلفو په کمند پټوي

ما که کافر کړې زه خو ړنګ یمه پروا نلري
په سرکو شونډو د زاهد د ایمان خوند پټوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما وې په زړښت کې به بدل شمه
خلاص به له باڼو شونډو اوربل شمه
نه، لا چې کوم ښکلې په لار وینمه
غواړم چې خالونو ته یې غل شمه
لار ونیسم زه ورته د سپینې خولې
ژرنده د غاښونو کې یې دل شمه
جام په ربړده لاس د شونډه نه ښایي
زه په سپینه ړیره په کې حل شمه
غږ چې د پازیب د ښکلو پورته شي
سر له سجدې پورته په کتل شمه

ړنگ ته دعا ښکاري بد ویل د دوی
خوږ شم چې د ښکلې خولې کنځل شمه

